**په اندونیزیا کې د اسلامي حزبونو د بندیز لپاره د "پیرپو" په نوم نوی وضع شوی قانون، نه یوازې اسلامي حزبونه، بلکې په دې خاوره کې اسلامي ښوونې هم تر پوښتنې لاندې راولي**




د حزب التحریر- ولایه اندونیزیا ویاند محمد اسماعیل یوسینتو د ۲۰۱۷م کال د سپټمبر پر ۲۹مه د اندونیزیا د پلازمېنې جاکارتا د استازو مجلس ته وویل: «پیرپو (د جرمي سازمانونو د قانون په بدل کې نوی قانون) د خپلې دویمې شمېرې په برخه کې نه یوازې اسلامي کتلې، بلکې اسلامي ښوونې هم تر پوښتنې لاندې راوړې دي.»

همداراز هغه وویل: «وروسته له هغه چې پیرپو د حزب التحریر- ولایه اندونیزیا د قانوني بنسټ غوښتنه لغوه کړي او له دې وروسته به دغه حزب ته د خلافت په اړه د ازادۍ وینا اجازه ورنه کړي؛ نو څنګه کېدی شي په هغې خاوره کې چې ډېری یې مسلمانان دي، پر خلافت بندیز ولګي او خلک یې پر وړاندې غلي پاتې شي؟ دا په داسې حال کې ده، چې خلافت په دې خاوره کې زموږ لپاره د اسلام د پوهاوي لار هواره کړې او په دې خاوره کې د اسلامي امت ډېری کسان د خلافت غوښتونکي او ملاتړي دي.»

هغه په ۲۹۹یمه شمېره لاریون کې له ۱۵۰ زره لاریونکوونکو سره یو ځای د «پیرپو» قانون رد کړ او د اندونیزیا د کمونېست حزب شتون پر وړاندې یې غږ پور ته کړ او نیوکه یې پرې وکړه. وروسته لاریونکوونکو د هغه له وینا سره یو ځای، چې تور او سپین بیرغونه یې لېږدول، «خلافت، خلافت، خلافت» نارې وهلې. همداراز د «لوا» او «رایة» یعنې سپین او تور بیرغونه له لرې څخه د لاریونکوونکو پر سر ښکارېدل.

**د حزب التحریر- ولایه اندونیزیا مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۳۹هـ.ق، د محرم ۹مه**

**۲۰۱۷م، د سپټمبر۲۹مه**